# دَ عبرانيانو په نُوم خط

## عبرانيانو باب ۱

## خُدائے دَ خپل زوئے په وسيله خبرے کړے دی

۱ په تيره زمانه کښے خُدائے زمُونږ دَ پلارانو نيکُونو سره ډير ځله په مُختلفو طريقو سره دَ نبيانو په معرفت
خبرے وکړلے. ۲ خو په دے آخره زمانه کښے ئے مُونږ سره دَ خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه
ئے دَ ټولو څيزُونو وارث وګرزولو اَؤ دَ هغۀ په وسيله ئے هم ټول کائنات پيدا کړل. ۳ چه هغه دَ خُدائے دَ
جلال مظهر اَؤ دَ هغۀ دَ ذات عکس دے اَؤ ټول څيزُونه دَ خپل قُدرت په کلام سمبالوی. هغۀ ګُناهُونه
پاک کړل اَؤ په آسمان کښے دَ قادرِ مُطلق خُدائے په ښی لاس کښيناستو.

## زوئے دَ فرښتو نه غوره دے

۴ نو داسے ئے زوئے له فرښتو نه دومره غوره شو څومره چه هغۀ په ميراث کښے دَ هغوئ نه لوئے نُوم
مُوندلے وُو. ۵ هيڅ کله هم خُدائے کُومے فرښتے ته دا نۀ دی وئيلی چه :

«تۀ زما زوئے يئے،ما نن اظهار کړے.»

اَؤ بيا دا چه:

«زۀ به دَ هغۀ پلار يم اَؤ هغه به زما زوئے وی.»

۶ اَؤ بيا چه خُدائے خپل اول پيدا شوے،يعنے عيسیٰ،دنيا ته راولی نو وائی چه :

«دَ خُدائے ټولے فرښتے دِ هغۀ ته سجده وکړی.»

۷ اَؤ دَ فرښتو په باب کښے وائی چه:

«هغه دَ خپلو فرښتو نه باذُونه جوړه وی.

اؤ خپلو خادمانو نه دَ اور شُغلے جوړوی»

۸ خو دَ خپل زوی په حقله وائی چه:

«اَئے خُدايه! ستا تخت به تل تر تله وی

اَؤ ستا دَ بادشاهئ امسا دَ صداقت امسا ده.

۹ تا دَ صداقت سره مينه اَؤ دَ بدکارئ نه نفرت وکړو،

په دے وجه خُدائے،یعنے ستاسو خُدائے،

تۀ په تیلو مسح کړلے

اَؤ دَ خپلو ملګرو په نسبت ئے زیات خوشحاله کړلے.»

۱۰ اَؤ بیا دا چه:

«اَئے مالِکه! تا دَ مزکے بُنیاد له ازل نه کیښودو

اَؤ آسمان ستا دَ لاس کاریګری ده.

۱۱ هغه به فنا شی خو تۀ به باقی پاتے یئے،

اَؤ هغه به ټول دَ جامو په شان زاړۀ شی.

۱۲ تۀ به هغه دَ چُوغے په شان راونغاړے

اَؤ دَ جامو په شان به بدل کړے شی.

خو تۀ هم هغه ئے اَؤ ستا کالُونه به ختم نۀ شی.»

۱۳ خو خُدائے په فرښتو کښے دَ چا په باب کښے کله وئیلی وُو چه:

«تۀ زما ښی لاس ته کښېنه تر څو چه زَۀ ستا دُښمنان

دَ پښو دَ لاندے دُنکاچه نۀ کړم.»

۱٤ فرښتے څۀ دی؟ هغوئ ټول خدمت ګُزار رُوحُونه دی کُوم چه دَ هغه خلقو دَ خدمت دَ پاره رالیږلی شوی دی څوک چه دَ خلاصُون وارثان دی.

## عبرانیانو باب ۲

## لوئے خلاصُون

۱ دَ دے دَ پاره کُومے خبرے چه مُونږ آؤریدلی دی په هغوئ نور هم په زړۀ فکر کول په کار دی،دَ دے
دَ پاره چه دَ هغے نه په ښوئیدو لرے لاړ نۀ شُو. ۲ ځکه چه کُوم کلام چه دَ فرښتو په معرفت وئیلے
شوے وُو کله چه هغه قائم پاتے شو اَؤ دَ هرے خطا اَؤ نافرمانئ ټیک ټیک سزا ورکړے شوه،۳ نو بیا دَ
دومره لوئے خلاصُون نه په غافل پاتے کیدو مُونږ څنګه بچ کیدے شُو؟ کُوم خلاصُون چه وړُومبے دَ
مالِک په وینا وشو اَؤ آؤریدُونکو مُونږ ته ثابت کړو. ٤ اَؤ ورسره خُدائے هم په نخښو اَؤ په عجیبه کارُونو اَؤ

قِسما قِسم مُعجزو ګواهی ورکوله اَو دَ خپلے مرضئ په مُطابق ئے دَ رُوحُ القُدس دَ نعمتُونو په تقسيم کولو ورسره شاهدی وکړه.

## دَ خلاصُون بانی

٥ خُدائے هغه راتلُونکے جهان دَ کُوم چه مُونږ ذکر کوُو،دَ فرښتو تابع نۀ کړو. ٦ بلکه يو ځائے ئے داسے وئيلے دی چه:

«اِنسان څۀ څيز دے چه تۀ دَ هغۀ خيال کوے؟

دَ هغۀ اَوْلاد څۀ څيز دے چه تۀ په هغۀ نظر ساتے؟

٧ تا هم هغه دَ لږ وخت دَ پاره دَ فرښتو نه څۀ لږ کم کړو،

تا په هغۀ دَ جلال اَوْ عزت تاج کيښودو

٨ اَوْ تا ټول څيزُونه دَ هغۀ تابع اَوْ دَ پښو لاندے کړی دی.»

نو بيا چه په کُوم شان هغه ټول څيزُونه دَ هغۀ تابع کړل نو هغۀ هيڅ څيز داسے پرے نۀ ښودو چه هغه ئے دَ هغۀ تابع کړے نۀ وی،خو مُونږ تر اوسه ټول څيزُونه دَ هغۀ تابع نۀ وينُو. ٩ البته عيسیٰ ګورُو کُوم چه له فرښتو څۀ لږ کم کړے شو،چه دَ مرګ تکليف دَ زغملو په سبب ورته دَ جلال اَوْ عزت تاج په سر کړے شو چه دَ خُدائے په فضل سره مسيح دَ هر يو سړی دَ پاره مړ شی. ١٠ ځکه چه ټول څيزُونه دَ خُدائے دَ پاره دی اَوْ چه دَ خُدائے په وسيله ټول څيزُونه دی نو هغۀ له هم دا مُناسب وُو چه هر کله چه ډير زامن په جلال کښے داخل کړی نو دَ هغوئ دَ خلاصُون بانی،يعنے عيسیٰ،دَ تکليفُونو په وسيله کامل کړی.

١١ ځکه چه پاکُوونکے اَوْ پاکيدُونکے ټول دَ يو اصل نه دی،ځکه خو عيسیٰ هغوئ ته په ورور وئيلو نۀ شرميږی. ١٢ دَ دے دَ پاره هغه فرمائی چه:

«زَۀ به ستا نُوم خپلو ورُونړو ته بيان کړم،

په جماعت کښے به ستا حمد ثنا ووايم.»

١٣ اَوْ بيا دا چه :

«زَۀ به په هغۀ باور ساتم.»

اَوْ بيا دا چه:

«ګوره! زَۀ دَ هغه بچو سره چه خُدائے ما ته راکړل

موجُود يم.»

۱٤ بيا لکه چه دَ هغهٔ بچی اِنسانان دی،دغه شان عيسىٰ هم اِنسان شو دَ دے دَ پاره چه دَ مرګ په وسيله
هغه څوک چه په مرګ ئے قُدرت حاصل وُو،يعنے اِبليس،تباه کړی، ۱٥ اَؤ څوک چه ټول عُمر دَ مرګ دَ
ويرے په غُلامئ کښے ګرفتار وُو،هغوئ خلاص کړی. ۱٦ ځکه چه په حقيقت کښے هغه دَ فرښتو نه
،بلکه دَ ابراهيم دَ نسل مدد کوی. ۱۷ هم دغه وجه ده چه عيسىٰ ته په هر لحاظ دَ خپلو ورُوڼو په شان
جوړيدل په کار وُو چه هغه دَ خُدائے په خدمت کولو کښے داسے لوئے کاهن شی چه زړهٔ سواندے اَؤ
وفادار وی،اَؤ دَ خلقو دَ ګُناهُونو کِفاره ورکړی. ۱۸ ځکه چه هغه په خپله وآزمائيلے شو نو هغه دَ هغوئ
مدد کولے شی څوک چه آزمائيلے کيږی.

## عبرانيانو باب ۳

## عيسىٰ له مُوسىٰ نه لوئے دے

۱ نو اَئے پاکو ورُوڼو! تاسو چه په آسمانی بلنه کښے شريک يئ،په هغه رسُول اَؤ مشر کاهن عيسىٰ غور
وکړئ دَ چا چه مُونږ اِقرار کوُو. ۲ خُدائے هغه مُقرر کړو اَؤ هغه دَ خُدائے وفادار پاتے شو لکه څنګه چه
مُوسىٰ دَ خُدائے په ټول کور کښے وفادار وُو. ۳ ځکه چه هغه دَ مُوسىٰ نه دومره زيات دَ عزت خاوند
وګڼلے شو څومره چه دَ کور جوړوُونکے له کور نه زيات عزتمن وی. ٤ ځکه چه دَ هر يو کور څوک نه
څوک جوړوونکے وی،خو چا چه ټول څيزُونه جوړ کړل هغه خُدائے دے. ٥ مُوسىٰ خو دَ خُدائے په ټول
کور کښے دَ خادم په شان ديانتدار وُو دَ پاره دَ دے چه راتلُونکو خبرو په باب کښے ګواهی ورکړی. ٦
خو مسيح دَ زوی په حيثيت دَ خُدائے دَ کور مُختار دے،اَؤ دَ خُدائے کور مُونږ يو خو په دے شرط چه دَ
خپلے زړهٔ ورتيا اَؤ اُميد فخر تر آخره ټينګ قائم وساتُو.

## دَ خُدائے دَ خلقو دَ پاره آرام

۷ نو بيا لکه څنګه چه رُوحُ القُدس فرمائی:

«که تاسو نن دَ هغهٔ آواز واؤرئ،

۸ نو خپل زړُونه مه سختوئ

څنګه چه دَ غُصے راوستو په وخت مو

دَ آزميښت په ورځ په بيابان کښے کړی وُو،

۹ چرته چه ستاسو پلارُونو نيکُونو

زما جاج اَؤ آزميښت وکړو

اَؤ څلويښت کاله پورے ئے زما کارُونه وليدل.

۱۰ ځکه زَۀ دَ هغے پيړئ نه خفه شوم

اَؤ ما ووئيل چه دَ دوئ زړُونه هميشه گُمراه کيږی

اَؤ هغوئ زما لارے ونۀ پيژندلے

۱۱ ځکه ما په خپل غضب کښے قسم وخوړلو

چه دوئ به زما په آرام کښے داخليدے نۀ شی.»

۱۲ نو ورُوڼو! خبردار شئ،په تاسو کښے دِ دَ چا داسے بد اَؤ بے ايمانه زړۀ نۀ وی چه دَ ژوندی خُدائے نه
وگرزی. ۱۳ بلکه تر کُومه پورے چه دَ نن ورځ وئيلے کيږی،هره ورځ په خپلو کښے نصيحت کوئ چه
په تاسو کښے څوک دَ گُناه په تيندک خوړلو کښے سخت زړے نۀ شی. ۱٤ ځکه چه مُونږ په مسيح
کښے شريک شوی يُو خو هله چه په خپل اولنی باور تر آخره ټينگ قائم پاتے شُو. ۱۵ لکه چه صحيفے
وائی چه:

«که تاسو نن دَ هغۀ آواز وارئ،

نو خپل زړُونه هغسے مه سختوئ

لکه چه مو دَ غُصے راوستو په وخت کړی وُو.»

۱۶ نو کُومو خلقو دَ غږ په آؤريدو غُصه ور وسته؟ آيا هغه ټول نۀ وُو څوک چه دَ مُوسیٰ په وسيله دَ مصر
نه وتلی وُو څۀ؟ ۷ اَؤ هغه دَ کُومو خلقو نه تر څلويښتو کالو پورے خفه وُو؟ آيا دَ هغوئ نه نه،چا چه گُناه
وکړه اَؤ دَ هغوئ مړی په بيابان کښے پراتۀ وُو؟ ۱۸ اَؤ دَ چا په باب کښے هغۀ قسم وخوړلو چه «هغوئ به
زما په آرام کښے داخليدے نۀ شی»؟هغه چا چه نافرمانی وکړه. ۱۹ غرض دا چه مُونږ وينُو چه هغوئ
ځکه داخليدے نۀ شول چه ايمان ئے راوړے نۀ وُو.

# عبرانيانو باب ۴

۱ نو بيا چه دَ خُدائے په آرام کښے دَ داخليدو لوظ باقی دے نو مُونږ ته ويريدل په کار دی،هسے نه چه
په تاسو کښے څوک پاتے شوے معلُوم شی. ۲ لکه چه مُونږ ته زيرے واؤرولے شو هم هغوئ ته دَ
خوشحالئ خبر واؤرولے شو،خو آؤريدلی کلام هغوئ ته څکه فائده ورنۀ کړه چه آؤريدُونکو په ايمان سره
په خپلو زړُونو کښے قبُول نۀ کړو. ۳ اَؤ مُونږ چه ايمان راوړو په هغه آرام کښے داخليږو لکه څنگه چه
خُدائے ووئيل چه:

«ما په خپل غضب کښې قسم وخوړلو چه هغوئ به زما په آرام کښې داخل نۀ شی.» ٤ اګر که دَ
خُدائے کار دَ هغه وخت ختم شوے وُو دَ کله نه چه هغۀ دُنیا پیدا کړے وه. لکه چه هغۀ دَ اُوومے
ورځے په باب کښې په یوه موقع داسے ووئیل چه:«خُدائے خپل ټول کارُونه پُوره کړل اَؤ په اُوومه ورځ
ئے آرام وکړو.» ٥ اَؤ یو ځل بیا په دے ځائے کښې لیک دی چه: «هغوئ به زما په آرام کښې داخلیدے
نۀ شی.» ٦ چا چه په شروع کښې دا زیرے واؤریدو نو هغوئ په هغه آرام کښې داخل نۀ شول ځکه چه
هغوئ نافرمانی وکړله،خو بعضے خلق داسے دی چه په دے کښې به داخلیدے شی. ٧ نو بیا خُدائے یوه
خاص ورځ مُقرره کړه اَؤ له دومره مُودے نه پس ئے دَ داؤد په کتاب کښې ورته "دَ نن ورځ" ووئیل،لکه
چه وړُومبے وئیلے شوی دی چه:

«که تاسو نن دَ هغۀ آواز واؤرئ نو خپل زړُونو سختوئ مه.»

٨ اَؤ که یشوع هغوئ په آرام کښې داخل کړی وے نو خُدائے به دَ هغے نه پس دَ بلے ورځے ذکر نۀ
کاوو. ٩ نو بیا دَ خُدائے دَ خلقو دَ پاره آرام لکه دَ سبت ورځ باقی ده. ١٠ ځکه څوک چه دَ خُدائے په
آرام کښې داخل شی،هغه هم دَ خُدائے په شان دَ خپلو کارُونو نه آرام وکړی. ١١ نو راځئ چه مُونږ په
هغه آرام کښې دَ داخلیدو داسے کوشش وکړُو چه دَ هغوئ په شان په نافرمانئ کولو هیڅوک پرے نۀ
وزی.

١٢ ځکه چه دَ خُدائے کلام ژوندے اَؤ اثرناک اَؤ دَ هرے یوے دوه مخے تُورے نه زیات تیرۀ دے،چه دَ
اِنسان دَ ځان اَؤ رُوح نه تیریږی اَؤ اَندام اَندام اَؤ مغز مغز جُدا کوی اَؤ دَ زړۀ په خیالُونو اَؤ اِرادو تحقیق
کوی. ١٣ اَؤ دَ خُدائے نه دَ خلقو هیڅ څیز پټ نۀ دے بلکه دَ چا سره چه زمُونږ حساب دے،دَ هغۀ په
نظر کښې ټول څیزُونه ښرګند اَؤ بے پړدے دی.

## عیسیٰ لوئے مشر کاهن دے

١٤ نو بیا چه مُونږ داسے لوئے مشر کاهن لرُو،یعنے عیسیٰ دَ خُدائے زوئے چه دَ خُدائے حضُور ته لاړو،نو
راځئ چه مُونږ دَ خپل ایمان په اِقرار ټینګ پاتے شُو. ١٥ ځکه چه زمُونږ داسے مشر کاهن نۀ دے چه
زمُونږ په کمزورتیاؤ کښې همدرد کیدے نۀ شی بلکه هغه په ټولو خبرو کښے زمُونږ په شان وآزمئیلے شو
خو بیا هم بے ګُناه پاتے شو. ١٦ نو راځئ چه مُونږ د خدائے دَ فضل دَ تخت په وړاندے په زړۀ ورتیا یُون
کوو چه په مُونږ رحم وشی اَؤ هغه فضل حاصل کړُو کُوم چه حاجت په وخت زمُونږ مدد وکړی.

## عبرانیانو باب ٥

١ هر مشر کاهن دَ خلقو چُوڼ کړے شی اَؤ دَ خلقو دَ پاره دَ هغه خبرو دَ پاره مُقررولے شی کُومے چه دَ
خُدائے سره تعلق لری چه دَ ګُناهونو دَ پاره نذرانے اَؤ قُربانی پیش کړی. ٢ اَؤ هغه دَ ناپوهه اَؤ ګُمراهانو
سره په نرمئ سره دَ پیش کیدو جوګه وی ځکه چه هغه په خپله هم په کمزورتیاؤ کښے ګیر دے. ٣ په
دے وجه لکه څنګه چه هغه دَ خلقو دَ پاره دَ ګُناهُونو قُربانی ورکوی هم هغه شان دِ دَ خپل ځان دَ پاره

ورکړی. ٤ اَؤ هيڅوک په خپله دا عزت نۀ شی مُوندلے تر څو چه دَ هارُون په شان دَ خُدائے له طرفه ونۀ بللے شی.

٥ دغه شان مسيح هم دَ مشر کاهن عزت پخپله ونۀ مُوندلو بلکه هغه چا ورکړو چا چه ورته وئيلی وُو چه:

«تۀ زما زوئے ئے،ما نن اِظهار کړے.»

٦ لکه چه هغه په بل ځائے کښے وائی چه:

«ته دَ ملکِ صِدق په شان تل تر تله کاهن يئے.»

٧ څۀ وخت چه عيسیٰ په مزکه ژوند تيرولو نو هغۀ په زوره زوره چغے کړے اَؤ اوښکے ئے بهيدلے
،خُدائے ته ئے دُعا ګانے اَؤ زاریٔ وکړے چا چه هغه له مرګ نه بچ کولے شو،اَؤ خُدائے ترسیٔ اَؤ دَ ځان
وقف کولو په وجه خُدائے دَ هغۀ واؤريدو. ٨ اَؤ سره دَ زوئے والی هغۀ تکليفُونه دَ زغملو سره فرمانبرداری
زده کړله. ٩ اَؤ چه کامل کړے شو نو دَ خپلو ټولو فرمانبردارانو دَ پاره د تل خلاصُون باعث وګرزيدو. ١٠
اَؤ هغۀ ته دَ خُدائے له طرفه دَ ملکِ صِدق په شان دَ مشر کاهن لقب ورکړے شو.

## دَ مرتد کيدو په باره کښے نصيحت

١١ دَ دے په باب کښے مُونږ ته ډيرے خبرے کول دی چه په هغویٔ پوهيدل ګران دی ځکه چه تاسو په
اُوچت آؤريدو عادت شوی نۀ يئ. ١٢ دَ وخت په مُطابق خو تاسو له اُستاذ کيدل په کار وُو خو اوس دَ
دے خبرے حاجت دے چه څوک دَ خُدائے دَ کلام اِبتدائی اُصول تاسو ته بيا وښيی،اَؤ دَ سخت
خوراک په ځائے تاسو ته دَ پيو څښلو حاجت پيښ شو. ١٣ څوک چه پیٔ وڅښی،هغه ماشُوم دے اَؤ
ماشُوم په ښۀ اَؤ په بد نۀ پوهيږی. ١٤ اَؤ سخت خوراک دَ پاخۀ عُمر خلقو دَ پاره وی چه په تجربے سره دَ
دے جوګه شوی دی چه په ښۀ اَؤ په بد پوهه شی.

## عبرانيانو باب ٦

١ نو راځئ چه دَ مسيح دَ تعليم اِبتدائی خبرے پريږدُو اَؤ دَ کمال په لور قدم وړاندے کړُو. اَؤ دَ بے
فائدے کارُونو نه په توبه کولو،اَؤ په خُدائے دَ ايمان راوړلو ٢ اَؤ دَ بپتسمو اَؤ لاس کيښودلو اَؤ له مړو نه دَ
بيا ژوندی کيدلو اَؤ دَ تل عدالت دَ تعليم بُنياد سر دوباره نۀ ږدُو. ٣ اَؤ که خُدائے غواړی نو مُونږ به هم
دغه کوُو.

٤ ځکه چه دَ کُومو خلقو زړُونه يو ځل روښانه شول اَؤ هغویٔ دَ آسمانی بخښښے خوند وڅښلو اَؤ په رُوحُ
القُدس کښے شريک شول ٥ اَؤ دَ خُدائے دَ غوره کلام اَؤ دَ راتلُونکی جهان دَ قوتُونو مزه ئے واخسته،٦
که چرے هغویٔ مُرتد شی نو هغویٔ دَ توبے دَ پاره بيا نوے کول ناممکنه ده،ځکه چه هغویٔ دَ خُدائے دَ

زوئے له خپله طرفه په دويم ځل په سولئ کوی اَؤ ښکاره ئے شرموی.

۷ ځکه چه کُومه مزکه دَ هغه باران اوبۀ وځښنی کُوم چه په هغے بيا بيا کيږی اَؤ دَ دهقان دَ پاره فائده من
فصل پيدا کوی د چا له طرفه چه دَ هغے کرونده هم کيږی،هغه مزکه دَ خُدائے له طرفه برکت مُومی. ۸
اَؤ که هغه مزکه اَزغی اَؤ جاړے زرغونوی نو بے فائدے ده اَؤ لعنت ته نزدے ده اَؤ انجام ئے سوزول
دی.

۹ زما ملګرو! اګر که مُونږ دا خبرے کوُو بيا هم ستاسو په باب کښے دَ دے نه غوره اَؤ دَ خلاصُون
ورکوُونکو خبرو يقين لرُو. ۱۰ ځکه چه خُدائے بے اِنصافه نۀ دے چه هغه ستاسو کار اَؤ هغه مينه هيره
کړی چه دَ هغۀ نُوم دَ خاطره مو داسے ظاهره کړه چه دَ پاکانو خدمت مو وکړو اَؤ کوئ ئے هم. ۱۱ اَؤ
مُونږ دَ دے خبرے آرزومند يُو چه په تاسو کښے دِ هر څوک په پُوره اُميد سره تر آخره هم دغه شان
کوشِش ظاهروی، ۱۲ دَ دے دَ پاره چه سُست نۀ شئ بلکه دَ هغوئ په شان شئ څوک چه دَ ايمان اَؤ
زغم په وجه دَ لوظ وارثان کيږی.

## دَ خُدائے پوخ لوظ

۱۳ لکه چه خُدائے دَ اِبراهيم سره دَ لوظ کولو په وخت دَ قسم خوړلو دَ پاره هيڅوک دَ ځان نه لوئے بيا
نۀ مُوندلو،نو په خپل ځان ئے قسم وخوړلو. ۱٤ وئے فرمائيل چه «زۀ به تا ته په رښتيا په برکتُونو برکتُونه
دربخښم اَؤ ستا اَؤلاد به ډير زياتوم.» ۱۵ اَؤ دغه شان په صبر کولو اِبراهيم دَ لوظ څيزُونه حاصل کړل. ۱٦
خلق خو دَ ځان نه دَ لوئے قسم خوری اَؤ دَ هغوئ دَ هر يو بحث آخری ثبوت دَ قسم سره وی. ۱۷
خُدائے چا سره چه لوظ کړے وُو،هغۀ هغوئ ته دا باور ورکول غوښتل چه دَ هغۀ اِرادے بدليدے نۀ
شی،ځکه هغۀ دَ لوظ نه علاوه قسم هم وخوړلو. ۱۸ چُنانچه دَ خُدائے لوظ اَؤ دَ خُدائے قسم دوه داسے
څيزُونه دی چه بدليدے نۀ شی ځکه چه دَ هغوئ په باب کښے خُدائے دروغ نۀ شی وئيلے. اوس چه
مُونږ په هغۀ کښے پناه واخسته،ډيره په زړۀ ورتيا سره هغه اُميد نيولے شُو چه زمُونږ په مخکښے کيښودے
شوے دے. ۱۹ دا اُميد زمُونږ دَ ځان دَ پاره دَ يو داسے لنګر کار کوی چه پوخ اَؤ قائم دے اَؤ دَ آسمان دَ
پردے دَ ننه پاکترين مقام ته هم رسيدلے دے. ۲۰ چرته چه عيسیٰ دَ تل دَ پاره دَ ملکِ صِدق دَ طريقے په
مُطابق دَ مشر کاهن جوړيدو سره زمُونږ نه مخکښے اَؤ زمُونږ دَ خاطره لاړو.

## عبرانيانو باب ۷

## دَ ملکِ صِدق دَ کهانت طريقه

۱ اَؤ ملکِ صِدق دَ شاليم بادشاه،دَ عظيم خُدائے کاهن وُو. کله چه اِبراهيم بادشاهانو له شکست ورکړو
اَؤ واپس راتلو نو ملکِ صِدق دَ هغۀ هر کلے وکړو اَؤ دَ هغۀ دَ پاره ئے برکت وغوښتو. ۲ هغۀ ته اِبراهيم دَ
ټولو څيزُونو عُشر ورکړو. دَئے اول خو دَ خپل نُوم دَ معنیٰ په مُطابق "دَ صداقت بادشاه "دے اَؤ بيا دَ
شاليم،يعنے "دَ صُلح بادشاه." ۳ په پاک کلام کښے نۀ خو دَ ملکِ صِدق دَ پلار څۀ ذکر شته،نۀ دَ مور
اَؤ نۀ دَ پلار نيکۀ اَؤ نۀ دَ هغۀ دَ پيدايښت اَؤ نۀ دَ مرګ بيان مُوندلے کيږی،دغه شان هغه دَ خُدائے دَ

زوئے په شان تل تر تله کاهن دے.

٤ نو بیا غور وکړئ چه دا څۀ رنګ مشر وُو چا ته چه دَ قوم نیکۀ اِبراهیم دَ غنیمت دَ ښۀ نه ښۀ مال عُشر ورکړو. ٥ اوس دَ لاوی په اَوَلاد کښے چه څوک دَ کاهنتوب عُهده مُومی،هغوئ ته حُکم دے چه دَ اُمت،یعنے دَ خپلو ورُونړو نه اګر که هغه دَ اِبراهیم له نسل نه وی،دَ شریعت په مُطابق دِ عُشر آخلی. ٦ خو اګر که دَ ملکِ صِدق نسب دَ هغوئ نه جُدا دے،هغۀ دَ ابراهیم عُشر واخستو چه ورسره لوظُونه کړی شوی وُو،نو دَ هغۀ دَ پاره برکت وغوښتو.٧ اَؤ په دے کښے دویمه خبره نِشته چه ورکوټے له لوئے نه برکت مُومی. ٨ اَؤ دلته خو کاهن چه مړ کیدُونکے دے عُشر آخلی،خو هلته ئے ملکِ صِدق آخلی دَ چا چه په حق کښے چه ګواهی ورکولے کیږی چه ژوندے دے. ٩ نو بیا مُونږ وئیلے شُو چه لاوی چه عُشر آخلی دَ ابراهیم په وسیله عُشر ورکړو. ١٠ ځکه چه څۀ وخت چه ملکِ صِدق دَ اِبراهیم هر کلے وکړو نو لاوی تر هغه وخته پورے پیدا شوے نۀ وُو،نو داسے وئیلے شُو چه دَ نیکۀ اِبراهیم په وجُود کښے وُو.

١١ نو بیا دَ لاوی کاهنانو په طریقه قوم ته شریعت ورکړے شوے وُو اَؤ که دَ هغۀ دَ طریقے په مُطابق دَ قوم خلق کامل کیدے شول نو دَ دے حاجت نۀ وُو چه بل قِسم کاهن مقرر کړے شی،یعنے داسے کاهن چه دَ ملکِ صِدق په طریقه وی اَؤ د هارون په طریقه نۀ وی. ١٢ اَؤ چه کاهنتوب بدل شو نو دَ شریعت بدلیدل هم ضروری دی. ١٣ ځکه چه دَ چا په باب کښے چه دا خبرے کولے شی،هغه دَ بلے قبیلے دے په کُومه کښے چه هیچا هم دَ قُربانګاه خدمت نۀ دے کړے. ١٤ یعنے ظاهره ده چه زمُونږ مالِک له یهُوداه دَ قبیلے نه پیدا شو اَؤ دَ دے قبیلے په باب کښے مُوسیٰ دَ کاهنتوب هیڅ ذکر نۀ دے کړے.

١٥ نو زمُونږ دعویٰ نوره هم صفا ښکاره شوه چه دَ ملکِ صِدق په شان یو بل داسے کاهن پیدا کیدُونکے وُو، ١٦ څوک چه دَ جسمانی حُکمُونو دَ شریعت په مُطابق نه،بلکه دَ غیر فانی ژوندُون دَ قُوت په مُطابق وټاکلے شو. ١٧ ځکه چه دَ هغۀ په حق کښے دا ګواهی ورکړے شوے ده چه: «تۀ به دَ ملکِ صِدق په طریقه تل تر تله کاهن یئے.» ١٨ غرض دا چه اول حُکم دَ کمزورئ اَؤ دَ بے فائدے کیدو په وجه منسُوخ شو،١٩ ځکه چه شریعت هیڅ څیز کامل کړے نۀ دے اَؤ دَ هغۀ په ځائے ئے یوه غوره اُمید کیښودو چه دَ هغۀ په وسیله مُونږ خُدائے ته نزدے کیدے شُو.

٢٠ اَؤ دَ مسیح مُقرر کیدل بغیر دَ قسمه ونۀ شو،ولے چه هغوئ خو بغیر دَ قسمه کاهنان مُقرر شوی دی ٢١ خو دَئے دَ قسم سره دَ خُدائے دَ طرفه مُقرر شو چه هغۀ دَ دۀ په باب کښے ووئیل چه:

«مالِک قسم خوړلے دے اَؤ دَ هغۀ نه به ګرزی نه

چه تۀ تل تر تله کاهن یئے.»

٢٢ دَ دے دَ پاره عیسیٰ دَ یو غوره وعدے ضامن شو.

٢٣ دَ کاهنانو شمیر ځکه زیات شو چه هغوئ دَ مرګ په وجه په خپلے عُهدے باندے قائم پاتے کیدے

نۀ شُو. ۲٤ خو عيسىٰ تل تر تله ژوندے پاتے کيږى،نو ځکه هغه داسے کاهن دے چه د هغۀ په ځائے بل
هيڅوک نۀ مُقرر کيږى.۲۵ دَ دے دَ پاره چه څوک دَ دَۀ په وسيله خُدائے ته راځى هغه هغوئ ته پُوره
پُوره خلاصُون ورکولے شى ځکه چه هغه دَ هغوئ دَ شفاعت دَ پاره هميشه ژوندے دے.

۲٦ ځکه چه دغه شان مشر کاهن زمُونږ هم په کار دے چه هغه پاک اَؤ بے ريا اَؤ بے داغه وى،اَؤ له ګُناه
ګارانو نه جُدا کړے اَؤ له آسمانُونو نه اُوچت کړے شوے وى. ۲۷ اَؤ دَ هغه مشرانو کاهنانو په شان دے
ته مُحتاجه نۀ وى چه هره ورځ اول دَ خپلو ګُناهُونو دَ پاره اَؤ بيا دَ اِسرائيل دَ اُمت دَ ګُناهُونو دَ پاره قُربانئ
ورکوى ځکه چه دا هغۀ په يو ځل وکړل څۀ وخت چه ئے خپل ځان قُربان کړو. ۲۸ ځکه چه شريعت
خو کمزورى کسان مشران کاهنان مُقررروى،خو کله چه خُدائے دَ شريعت نه وروسته په قسم خوړلو سره
وعده کوى نو هغه زوئے مُقرر کوى چه دَ تل دَ پاره قائم پاتے کيږى.

## عبرانيانو باب ۸

## دَ نوے اَؤ بهترے وعدے مشر کاهن

۱ اوس چه کُومے خبرے مُونږ کؤو په هغوئ کښے دَ ټولو نه لويه خبره دا ده چه زمُونږ يو داسے مشر
کاهن دے څوک چه په آسمانُونو کښے دَ قادرِ مُطلق خُدائے دَ تخت ښى لاس ته کښيناستو. ۲ اَؤ دَ
قُربانګاه اَؤ دَ هغه حقيقى خيمے خادم دے چه رب ودرولے ده،نۀ چه اِنسان.

۳ اَؤ چه هر مشر کاهن دَ نذرانو اَؤ قُربانو ورکولو دَ پاره مقررېږى دَ دے دَ پاره ضرورى شوه چه دَ دَۀ سره
هم دَ نذرانے دَ پاره څۀ وى. ٤ اَؤ که هغه په مزکه وَئے نو هيڅ کله به کاهن نۀ وُو ځکه چه نور کاهنان
شته چه دَ شريعت په مُطابق نذرانے پيش کوى. ٥ نو بيا هم هغه خدمت چه هغوئ په مزکه کوى،هغه دَ
هغۀ دَ آسمانى خدمت نقل اَؤ عکس دے. هر کله چه مُوسىٰ خيمه جوړوله نو هغۀ ته دا هدايت وشو
چه: «ګوره! کُومه نمُونه چه تا ته په غرۀ شوولے شوى وه دَ هغے په شان ټول څيزُونه جوړوه.» ٦ خو
عيسىٰ دَ هغوئ نه دومره غوره خدمت ومُوندلو څومره چه هغه وعده ده چه دَ چا هغه مينځګړے دے،اَؤ
هغه وعده ځکه غوره ده چه هغه په غوره لوظُونو قائم کړے شوے دے.

۷ ځکه چه که اول وعده بے نُقصه وے نو دَ بلے دَ پاره به موقعه لټولے نۀ شوه. ۸ نو بيا خُدائے دَ هغوئ
نُقص په ګوته کوى اَؤ وائى چه:

«مالِک فرمائى چه ګوره،هغه ورځے راځى چه زۀ به دَ اِسرائيل دَ کورنئ اَؤ دَ يهُوداه دَ کورنئ سره يوه
نوے وعده کوم. ۹ دا به دَ هغه وعدے په شان نه وى کُومه چه ما دَ هغوئ دَ پلارُونو نيکُونو سره هغه
ورځ کړے وه کله چه مے په لاس نيولى،دَ مصر له مُلک نه راويستل،ځکه چه هغوئ زما په وعده ټينګ
پاتے نۀ شول. اَؤ مالِک فرمائى چه ما دَ هغوئ پلو څۀ خيال ونۀ کړو. ۱۰ بيا مالِک فرمائى چه کُومه وعده
چه به دَ اِسرائيل دَ کورنئ سره دَ هغه ورځو نه پس کوم،هغه دا ده چه زۀ به خپل حُکمُونه دَ هغوئ په
ذهن کښے واچوم اَؤ دَ هغوئ په زړُونو به ئے وليکم،اَؤ زۀ به دَ هغوئ خُدائے يم اَؤ هغوئ به زما اُمت

وی. ۱۱ اَؤ هیڅوک به خپل وطنی اَؤ خپل ورور ته دا تعلیم نۀ ورکوی چه تۀ مالِک وپیژنه،ځکه چه
ورکوټے اَؤ لوئے به ټول ما وپیژنی. ۱۲ ځکه چه زَۀ به دَ هغوئ په قصُورُونو رحم کوم اَؤ دَ هغوئ ګُناهُونه
به هیڅ کله نۀ یادوم.»

۱۳ اَؤ هر کله چه هغۀ نوے وعده وکړه نو وړُومبے ئے زړه وګڼله،اَؤ کُوم څیز چه زوړ اَؤ شلیدلے وی هغه
به فنا کیدو کښے وی.

## عبرانیانو باب ۹

## دُنیاوی اَؤ آسمانی عبادت

۱ عرض دا چه اوله وعده کښے هم دَ عبادت حُکم وُو اَؤ داسے عبادتګاه چه دُنیا وی وه. ۲ یعنے یوه
خیمه جوړه کړے شوے وه چه په وړومبئ کښے ډیوټ اَؤ میز اَؤ دَ نذر ډوډئ وے،اَؤ هغۀ ته پاک مُقام
وائی. ۳ اَؤ دَ دویمے پړدے نه وروستو هغه خیمه وه کُومے ته چه پاک ترینه وائی. ٤ په هغے کښے دَ
سرو زرو عُود مذبح اَؤ څلور طرف ته سرۀ زر پرے راڅرخیدلی دَ وعدے صندُوق وُو. په دے کښے دَ من
نه ډک یو دَ سرو زرو مرتبان،اَؤ هارُون زرغونه شوے امسا،اَؤ دَ کاڼو تختئ چه پرے حُکمُونه لیکلی شوی
وُو. ٥ اَؤ دَ وعدے دَ صندُوق دَ پاسه فرښتے جوړے شوے وے چه دَ خُدائے دَ جلال نخښے وے،کُومو
چه دَ فضل په تخت سورے کړے وُو چرته چه دَ ګُناهُونو کِفاره ورکړے شوه. خو دا وخت دَ دے خبرو
په تفصیل سره دَ بیانولو موقعه نۀ ده.

٦ هر کله چه دا څیزُونه دغه شان جوړ شول نو اولنئ خیمے ته خو به کاهنان هر وخت ورننوزی اَؤ دَ
عبادت کار به کوی. ۷ خو دویمے ته صرف مشر کاهن په ټول کال کښے یو ځل ځی،اَؤ بغیر دَ وینے نۀ
ځی هغه دَ ځان دَ پاره اَؤ دَ اُمت دَ ناپوهئ دَ ګُناهُونو دَ پاره پیش کوی. ۸ دغسے رُوحُ القُدس دا اِشاره
کوی چه تر څو چه وړُومبئ خیمه ولاړه ده نو دَ پاک ترین مقام لار نۀ ده ښکاره شوے. ۹ هغه خیمه دَ
موجُوده زمانے یو مِثال دے اَؤ دَ دے په مُطابق داسے نذرُونه اَؤ قُربانئ ورکولے کیږی چه دَ عبادت
کوُونکی ضمیر پاک نۀ شی جوړولے. ۱۰ دَ هغوئ تعلق تش دَ خوراک څښاک اَؤ دَ پاکیدو تر رسمُونو
پورے وُو دا ظاهری قانُون دے اَؤ تش تر هغه وخته پورے جاری کړے شوے وُو تر څو چه خُدائے یو
نوے حُکم شروع نۀ کړی.

۱۱ خو مسیح دَ ښو څیزُونو دَ پاره دَ مشر کاهن په طور راغے چه اوس موجُود دے. په کُومه خیمه کښے
چه هغه خدمت کوی،هغه ډیره لویه اَؤ کامله ده. اِنسان هغه خیمه نۀ ده جوړه کړے اَؤ نۀ هغه دَ دے
دُنیا ده. ۱۲ اَؤ دَ چیلو اَؤ سخو په وینه ورلو سره نه،بلکه خپله وینه ئے واخسته اَؤ په هغه پاک ترین مقام
کښے یو ځل داخل شو اَؤ په دے ئے دَ تل خلاصُون وکړو. ۱۳ ځکه چه هر کله چه دَ چیلو اَؤ غوایانو
وینه اَؤ دَ سخو اِیره په ناپاکو دَ نوستو سره ظاهره پاکی حاصلیږی، ١٤ نو بیا ولے دَ مسیح وینه له دے نه
زیات څۀ ونۀ کړی! هغۀ دَ هغه رُوح په وسیله چه له ازل نه دے دَ خپل ځان دَ یو بے عیبه قُربانئ په طور
دَ خُدائے په مخکښے پیش کړو اَؤ دَ هغۀ وینه به زمُونږ زړُونه دَ داسے کارُونو نه پاک کړی چه دَ هغوئ

اَنجام مرګ دے،چه مُونږ دَ ژوندی خُدائے عبادت وکړُو.

۱۵ په دے وجه مسیح دَ نوی وعدے مینځګړے دے. کُومو خلقو چه دَ وړُومبئ وعدے په وخت قصُور
وکړو هغۀ هغوئ له دَ خپل مرګ په وسیله خلاصُون ورکړو. دَ هغۀ اِراده وه چه په هغه نوے وعده کښے
شامیلیدُونکی،یعنے دَ خُدائے رابللی شوی خلق،دَ خُدائے دَ لوظ په مُطابق دَ تل میراث حاصل کړی.

۱۶ ځکه چه چرته چه وصیت دے هلته دَ وصیت کوُونکی مرګ هم ثابتول ضروری دی، ۱۷ اَؤ وصیت
له مرګ نه پس جاری کیږی اَؤ تر څو چه وصیت کوُونکے ژوندے وی تر هغے وصیت نۀ جاری کیږی.
۱۸ دَ دے دَ پاره اوله وعده هم بغیر دَ وینے نه نۀ وه شوے. ۱۹ کله چه مُوسیٰ ټول اُمت ته دَ شریعت هر
یو حُکم واؤرولو نو دَ سخو اَؤ چیلو وینه ئے واخسته،دَ اوبو اَؤ سرے ورئ اَؤ دَ زوفا سره ئے په هغه کتاب
اَؤ په ټول اُمت ونوستله، ۲۰ اَؤ وئے وئیل چه: «دا دَ هغے وعدے وینه ده دَ کُوم حُکم چه خُدائے تاسو ته
درکړے دے.» ۲۱ اَؤ دغه شان هغۀ په خیمه اَؤ دَ عبادت په ټولو څیزُونو وینه ونوستله. ۲۲ اَؤ تقریبًا ټول
څیزُونه دَ شریعت په مُطابق په وینه پاکولے شی،اَؤ بغیر دَ وینے له تویولو نه معافی نۀ کیږی.

## دَ مسیح دَ قُربانئ سره ګُناه لرے کیږی

۲۳ نو بیا ضروری وه چه دَ آسمانی څیزُونو نقلُونه خو دَ قُربانئ په وسیله پاک کړے شی،خو په خپله
آسمانی څیزُونه دَ دے نه دَ غوره قُربانو په وسیله پاک کړے شی. ۲۴ ځکه چه مسیح هغه په لاس جوړ
شوی پاک مقام کښے نۀ وُو داخل شوے چه دَ حقیقی مقام نمُونه ده،بلکه په آسمان کښے داخل شو
چه اوس دَ خُدائے په مخکښے زمُونږ دَ خاطره حاضر وی. ۲۵ لکه څنګه چه مشر کاهن پاک ترین مقام
ته هر کال دَ بل چا وینه وړی،هغه شان مسیح خپل ځان بیا بیا نۀ قُربانوی. ۲۶ نو بیا دَ دُنیا له پیدایښت
نه به هغۀ ته بیا بیا خامخا مُصیبت زغمل په کار وُو،خو اوس دَ زمانو په آخر کښے یو ځل ظاهر شو چه دَ
خپل ځان په قُربان کولو ګُناه لرے کړی. ۲۷ اَؤ لکه چه څنګه دَ بنی آدم دَ پاره یو ځل مړ کیدل،اَؤ پس
له هغے عدالت کیدل مُقرر دی، ۲۸ هم هغه شان مسیح یو ځل دَ ډیرو خلقو دَ ګُناه وړلو دَ پاره قُربان
شوے دے. نو دویم ځل چه به هغه ښکاره شی نو دَ ګُناه دَ قُربانئ دَ پاره نه،بلکه دَ هغوئ دَ خلاصُون دَ
پاره چه دَ هغۀ اِنتظار کوی.

## عبرانیانو باب ۱۰

۱ ځکه چه شریعت چه په کښے دَ راتلُونکو ښو څیزُونو عکس دے اَؤ دَ هغه څیزُونو اصلی شکل نۀ
دے،دَ هغه یو قِسم قُربانو په وجه کُومے چه کال په کال بے ناغے پیش کولے شی،خُدائے ته نزدے
راتلُونکی خلق هیڅ کله هم کامل کولے نۀ شی. ۲ نو دَ هغوئ پیش کول به ختم شوی نۀ وُو څۀ؟ که
عبادت کوُونکی یو وار پاک شوی وے نو بیا به دَ هغوئ زړۀ هغوئ نۀ ګُناه ګار کولے. ۳ بلکه هغه
قُربانئ کال په کال ګُناهُونه ریادوی. ۴ ځکه چه دا مُمکنه نۀ ده چه دَ غوایو اَؤ چیلو وینه ګناهُونه لرے
کړی.

۵ ځکه خو مسیح دُنیا ته دَ راتلو په وخت وائی چه:

«تا قُربانی اَوُ نذر خوښ نهٔ کړو

بلکه زما دَ پاره دے یو بدن تیار کړو.

۶ په پُوره سوزیدُونکو قُربانو

اَوُ دَ گناه په قُربانو خو خوشحاله نهٔ شوے.

۷ هغه وخت ما ووئیل چه گوره!

زَهٔ راغلے یم،لکه چه دَ کتاب په پاڼو کښے

زما په باب کښے لیکلی دی چه

اَئے خدایه! زَهٔ راغلے یم چه ستا مرضی پوره کړم.»

۸ اول خو هغه وائی چه:"نهٔ خو تا قُربانی اَوُ نذرُونه اَوُ پُوره سوزیدُونکے قُربانئ اَوُ دَ گُناه قربانئ خوښے
کړے اَوُ نهٔ دَ هغے نه خوشحاله شوے" اگر که هغه قُربانی دَ شریعت په مُطابق پیش کولے شی. ۹ اَوُ بیا
دا وائی چه: "گوره،زَهٔ راغلے یم چه ستا مرضی پُوره کړم." غرض دا چه هغه اولنئ قُربانئ ځکه منسُوخ
کوی چه دَ مسیح قُربانی هغه ځائے ونیسی. ۱۰ دَ خُدائے دَ مرضئ په سبب مُونږ دَ عیسیٰ مسیح دَ بدن دَ
یو ځل قُربانیدو په وجه کُومه چه دَ همیشه دَ پاره وه،پاک کړی شوی یُو.

۱۱ اَوُ هر یو کاهن خو هره ورځ په ولاړه عبادت کوی اَوُ بیا بیا یو قِسم قُربانی پیش کوی کُومے چه هیڅ
کله گُناهُونه لرے کولے نهٔ شی. ۱۲ خو مسیح دَ همیشه دَ پاره دَ گُناهُونو دَ لرے کولو دَ پاره په یوے
قُربانئ پیش کولو دَ خُدائے ښی لاس ته کښیناستو. ۱۳ اَوُ له هغه وخت نه په دے انتظار دے چه دَ هغهٔ
دُښمنان دَ هغهٔ دَ پښو دَ لاندے کړے شی. ۱۴ ځکه چه هغه په یوے قُربانئ پیش کولو هغوئ همیشه دَ
پاره کامل کړی دی کُوم چه پاک شوی دی.

۱۵ اَوُ رُوحُ القُدس هم مُونږ ته دغه گواهی راکوی چه:

۱۶ .«مالِک فرمائی چه کُومه وعده

چه زَهٔ به دَ هغوئ سره دَ هغو ورځو نه پس کوم،

هغه دا ده چه زَهٔ به خپل حُکمُونه دَ هغوئ زړُونو ته واچوم

اَوُ دَ هغوئ په ذهن کښے به ئے ولیکم.»

اَوْ بیا هغه دا وائی چه:

١٧ «دَ هغوئ گُناهُونه اَوْ نافرمانئ به بیا کله هم یادے نهٔ کړم.»

١٨ اَوْ چه دَ هغوئ معافی شوے ده نو بیا دَ گُناهُونو قُربانئ پیش کولو حاجت نِشته.

## نصیحت اَوْ خبردارے

١٩ نو اوس اَئے ورُونړو! چه مُونږ دَ عیسیٰ دَ وینے په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړهٔ ور یُو، ٢٠ په
هغه نوے اَوْ ژوندئ لار چه هغهٔ زمُونږ دَ پاره دَ پردے له مینځ نه خلاصه کړے ده،یعنے دَ خپل بدن په
وسیله، ٢١ اَوْ چه زمُونږ دغه شان لوئے کاهن دے چه دَ خُدائے دَ کور مُختیار دے، ٢٢ نو راځئ چه
خُدائے ته ورشُو اَوْ په داسے حالت کښے چه زمُونږ زړُونه رښتینی وی،زمُونږ ایمان دِ مضبُوط وی،زمُونږ
ضمیر دِ دَ گُناه دَ اِحساس نه پاک وی،اَوْ زمُونږ بدنُونه دِ په صفا اوبو سره ونیځلی وی. ٢٣ په دے حالت
کښے چه دَ کُوم اُمید چه مُونږ اِقرار کوُو هغه اُمید به ټینګ ونیسُو ځکه چه خُدائے په خپل لوظ پُوره کولو
کښے وفادار دے. ٢٤ اَوْ مُونږ دَ یو بل خیال وساتُو اَوْ یو بل ته دَ مینے اَوْ نیکو کارُونو دَ کولو ترغیب
ورکوُو. ٢٥ اَوْ دَ یو بل سره دَ عبادت دَ پاره جمع کیدو نه منع نه شُو لکه څنګه چه دَ ځنو خلقو دستُور
دے،بلکه یو بل ته نصیحت وکړُو،اَوْ هر څومره چه هغه ورځ په رانزدے کیدو وینئ هغه هومره ئے زیات
کوئ.

٢٦ که مُونږ دَ حق دَ پیژندګلو نه پس له قصده گُناهُونه کوُو نو دَ گُناهُونو دَ پاره څهٔ بله قُربانی نِشته. ٢٧
خو دَ عدالت یو ویرُوُونکے اِنتظار اَوْ غضبناک اور پاتے دے کُوم به چه دَ خُدائے مُخالفان وسیزی. ٢٨
کله چه مُوسیٰ شریعت نهٔ منُونکی دَ دوؤ یا دریو سړو په گواهئ بے له څهٔ رحم نه مړهٔ کولے شی، ٢٩ نو
خیال وکړئ چه هغه څوک به دَ څومره زیاتے سزا لائق وګرزی چه دَ خُدائے زوے ئے رد کړلو،اَوْ دَ
وعدے وینه چه هغه پرے پاک شوے وُو هغه ئے ناپاکه وګڼله،اَوْ دَ فضل رُوح ئے بے عزته کړو. ٣٠ ځکه
چه مُونږ هغه پیژنُو چا چه فرمائیلی دی چه: «بدل اخستل زما کار دے،بدل به زهٔ آخلم» اَوْ بیا دا چه
«مالِک به دَ خپل اُمت عدالت کوی.» ٣١ دَ ژوندی خُدائے په لاسُونو کښے ورتلل هیبتناکه خبره ده !

٣٢ خو اول هغه اولنئ ورځے رایادے کړئ چه په تاسو دَ خُدائے نُور وځلیدو،اَوْ تاسو څومره مُصیبتُونه
وزغمل اَوْ مضبُوط پاتے شوئ. ٣٣ کله کله دَ سپکاوؤ اَوْ دَ مُصیبتُونو په وجه تاسو تماشه شوئ،دَ چا سره
چه بد سلُوکی کیده،کله کله تاسو دَ هغوئ په بد سلُوکئ کښے ورسره شریک هم شوئ، ٣٤ اَوْ چه تاسو
دَ قیدیانو سره همدردی هم وکړه،اَوْ دَ خپل مال لوټ کیدل مو هم په خوشحالئ سره منظُور کړل،په دے
پوهه وئ چه تاسو سره یو غوره اَوْ دَ تل میراث دے. ٣٥ نو بیا خپله زړهٔ ورتیا مه پریږدئ ځکه چه دَ هغے
ډیر اجر دے. ٣٦ ځکه خو تاسو ته صبر کول ضروری دی چه دَ خُدائے مرضی پُوره کړئ اَوْ لوظ کړی
شوی څیزُونه حاصل کړئ. ٣٧ اَوْ اوس ډیر لږ وخت پاتے دے چه:

«راتلُونکے به راشی اَوْ ایساریږی نه.

۳۸ اَؤ زما صادِق به په ایمان پائی،

اَؤ که چرے هغه وګرزی

نو زما زړۀ به له هغۀ نه خوشحاله نۀ وی.»

۳۹ خو مُونږ به راونۀ ګرزُو چه هلاک شُو،بلکه ایمان لرُونکی یُو چه ځانُونه بچ کړُو.

# عبرانیانو باب ۱۱

## ایمان

۱ پس ایمان دا دے چه په هغه څیزُونو باور وکړو چه پرے اُمید لرُو،اَؤ دَ نالیدلو څیزُونو ثبوت دے. ۲
ځکه زمُونږ مشران دَ ایمان په وسیله دَ خُدائے په حضُور کښے مقبُول وګرزولے شول.

۳ مُونږ ته دَ ایمان په وسیله دا معلُومه ده چه عالمُونه دَ خُدائے په کلام جوړ شوی دی،داسے نۀ ده چه
څۀ چه په نظر راځی هغه دَ ظاهری څیزُونو نه جوړ شوی دی.

٤ دَ ایمان په وسیله دَ خُدائے دَ پاره هابیل اَؤ قائن نه غوره قُربانی پیش کړه،اَؤ هم په هغه ایمان دَ هغۀ
صداقت ګواهی ورکړے شوه ځکه چه خُدائے دَ هغۀ دَ قُربانو په باب کښے ګواهی ورکړه. اګر که هابیل
مړ شوے دے خو دَ ایمان په وسیله هم تر اوسه ګواهی کوی.

٥ دَ ایمان په وسیله حنوک مړ نۀ شو بلکه آسمان ته ژوندے پورته کړے شو. هغه هیچا ته ښکاره نۀ شو
ځکه چه خُدائے هغه پورته اُوچت کړے وُو،اَؤ دَ هغۀ دَ پورته کیدو نه مخکښے دَ هغۀ په باب کښے دا
ګواهی ورکړے شوه چه هغه دَ خُدائے خوښ شوے وُو. ٦ اَؤ بغیر دَ ایمان نه دَ خُدائے خوشحالول
نامُمکن دی،ځکه چه خُدائے ته راتلُونکی ته په دے ایمان راوړل په کار دی چه هغه موجُود دے اَؤ
څوک ئے چه لټوی،هغوئ ته اَجر ورکوی.

۷ دَ ایمان په وسیله نُوح دَ هغه څیزُونو په باب کښے چه تر هغه وخته په نظر نۀ راتلل،هدایت ومُوندو اَؤ دَ
خُدائے دَ ویرے ئے دَ خپلے کورنئ دَ بچ کولو دَ پاره کِشتئ جوړه کړه. هغۀ دَ خپل ایمان په سبب ټوله
دُنیا مجُرمه کړه اَؤ دَ هغه صداقت وارث شو چه دَ ایمان په سبب وُو.

۸ دَ ایمان په سبب هر کله چه ابراهیم وبللے شو اَؤ حُکم ئے ومنلو نو هغه ځائے ته لاړو کُوم چه ئے په
میراث آخستُونکے وُو،اَؤ سره دَ دے چه دا ورته معلُومه نۀ وه چه چرته روان دے خو بیا هم له خپل وطن
نه روان شو. ۹ اَؤ دَ ایمان په سبب په هغه وطن کښے دَ مُسافرانو په شان دیره شو دَ کُوم چه ورسره لوظ
شوے وُو،اَؤ دَ اِسحاق اَؤ یعقُوب سره کُوم چه ورسره په هغه لوظ کښے وارثان وُو،په خیمو کښے دیره
شو. ۱۰ ځکه چه اِبراهیم دَ هغه مضبُوط ښار اُمید لرلو چه هغه ووینی،چه سازُوونکے اَؤ جوړُوونکے ئے
خُدائے دے.

١١ هم دَ ایمان په سبب ساره په بوډۍ والی کښې دَ ماشُوم راوړلو طاقت بیا مُوندو ځکه چه ساره لوظ
کوُونکے رښتینے وګڼلو. ١٢ نو بیا دَ یو سړی نه چه دَ مړی په شان وُو،دَ آسمان دَ ستورو هومره زیات اَو دَ
سمندر دَ غاړے دَ شګو هومره بے شماره اَولاد پیدا شو.

١٣ دا ټول دَ ایمان په حالت کښې مړۀ شول اَو هغه دَ لوظ په مُطابق څیزُونه ئے لا نۀ وُو مُوندلی،خو دَ
لرے نه ئے په لیدلو خوشحاله شول اَو اِقرار ئے وکړو چه مُونږ په مزکه بے وطنه اَو مُسافر یُو. ١٤ څوک
چه داسے خبرے کوی،هغوئ ښکاره کوی چه دَ خپل وطن په لټون کښې دی. ١٥ اَو چه له کُوم مُلک
نه هغوئ راوتلی وُو،که دَ هغۀ خیال ئے کولے نو هغوئ ته دَ واپس تللو موقعه وه. ١٦ خو په حقیقت
کښې هغوئ دَ یو غوره،یعنے دَ آسمانی مُلک طمعه دار وُو،اَو خُدائے دَ هغوئ نه نۀ شرمیږی چه هغوئ
خُدائے وبللے شی،ځکه چه هغوئ ته ئے یو ښار تیار کړو.

١٧ هم دَ ایمان په سبب اِبراهیم دَ آزمیښت په وخت اِسحاق قُربان کوو،اَو چا چه لوظُونه رښتیا منلی وُو
هغۀ هغه یکی یو زوئے قُربانۍ ته وړاندے کړو، ١٨ دَ چا په باب کښې چه دا وئیلے شوی وُو چه: «له
اِسحاق نه به ستا نسل وشی.» ١٩ ځکه چه دَ اِبراهیم دا باور وُو چه خُدائے اِسحاق له مړو نه بیا دَ
ژوندی کولو قُدرت لری،نو داسے اِبراهیم اِسحاق له مړو نه بیا ژوندے ومُوندلو.

٢٠ هم دَ ایمان په سبب اِسحاق دَ راتلُونکو خبرو په باب کښې ذکر کولو اَو یعقُوب اَو عیساؤ دواړو له
برکت ورکړو.

٢١ هم دَ ایمان په سبب یعقُوب دَ مرګ په وخت دَ یُوسف واړو زامنو له برکت ورکړو اَو دَ خپلے امسا په
سر دَ تکیه کولو سره ئے سجده وکړه.

٢٢ هم دَ ایمان په سبب کله چه دَ یُوسف مرګ نزدے شو نو دَ بنی اِسرائیلو له مصر نه دَ وتلو ذکر ئے
وکړو اَو دَ خپلو هډُوکو په باب کښې ئے حُکم ورکړو.

٢٣ هم دَ ایمان په سبب دَ مُوسیٰ مُور پلار دَ هغۀ دَ پیدایښت نه پس تر دریو میاشتو پورے هغه پټ وساتلو
ځکه چه هغوئ ولیدل چه هلک ښکلے وُو اَو هغوئ دَ بادشاه له حُکم نه ونۀ ویریدل.

٢٤ دَ ایمان په سبب چه مُوسیٰ لوئے شو نو دَ فرعون دَ لُور دَ زوی بللو نه ئے اِنکار وکړو. ٢٥ ځکه چه
هغۀ دَ ګُناه دَ ژوندُون دَ یو څو ورځو دَ خوند آخستو په نسبت دَ خُدائے دَ اُمت سره دَ بدسلُوک زغمل
زیات خوښ کړل. ٢٦ اَو هغۀ دَ مسیح دَ خاطره بدرد زغمل دَ مصر نه خزانو نه لوئے دولت وګڼلو ځکه
چه دَ هغۀ نظر په جزا مُوندلو وُو.

٢٧ هم دَ ایمان په سبب مُوسیٰ دَ بادشاه دَ قهر نه ویره ونۀ کړه بلکه مصر ئے پریښودو،داسے لکه چه هغۀ
نالیدلے خُدائے ولیدلو اَو قائم پاتے شو. ٢٨ هم دَ ایمان په سبب هغۀ په فسح کولو اَو وینے نوستلو عمل
وکړو دَ دے دَ پاره چه دَ ورُومبو پیدا شوی زامنو ته دَ مرګ فرښته لاس ورنۀ وړی.

۲۹ أَوْ دَ ایمان په سبب بنی اِسرائیل په بحرِ قُلزم داسې پورې وتل لکه چه په وچه مزکه،خو کله چه
مصریانو دَ پورې وتو کوشِش وکړو نو غرق شول.

۳۰ هم دَ ایمان په سبب دَ یریحو ښار دیوالُونه دَ بنی اِسرائیلو تر اُوو ورځو پورې گیر چاپیره تاویدلوسره
راونړیدل. ۳۱ هم دَ ایمان په سبب راحاب کنجرئ دَ نافرمانو سره هلاکه نهٔ شوه ځکه چه هغې اِسرائیلی
جاسُوسان په خیر قبُول کړل.

۳۲ نو اوس نور څهٔ ووایم؟ دومره فرصت نِشته چه دَ جدعون،برق،شمسون،جفتاه،داؤد،سموئیل أَوْ نورو
نبیانو حال بیان کړم. ۳۳ هغوئ هم دَ ایمان په سبب بادشاهئ لاندې کړې،دَ صداقت کارُونه ئې وکړل
څهٔ چه خُدائې لوظ کړی وُو وئې مُوندل،دَ زمرو خُلې ئې بندې کړلې، ۳٤ دَ اور تاؤ نه ئې بچ کړو،دَ
تُورې له مخ نه بچ شول،په کمزورتیا کښې زړهٔ ور شول،په جنگ کښې بهادران شول،دَ غیرو فوځونه ئې
وتښتول. ۳٥ ښځو خپل سړی بیا ژوندی ومُوندل.

څنو په ځان عذاب تیر کړو،خو رهائی ئې منظُوره نهٔ کړه،دَ پاره دَ دې چه هغوئ ته غوره قیامت حاصل
شی. ۳٦ په څنو پورې ئې ټوقې وکړلې،په کروړو ئې ووهل،په زنځیرُونو ئې وتړل أَوْ په قیدُونو ئې و
آزمئیل، ۳۷ سنگسار ئې کړل په آره وڅیرلې شول،په تُورو ئې مړهٔ کړل،دَ گډو بیزو څرمنې ئې آغوستې
وې،په مُحتاجئ،په مُصیبت،دَ بدسلُوکئ په حالت کښې سر وهلی بروهلی گرزیدل. ۳۸ دُنیا دَ هغوئ
لائقه نهٔ وه،هغوئ په دشتونو،غرُونو أَوْ دَ مزکې په کندو کښې تار په تار وگرزیدل.

۳۹ أَوْ سره دَ دې چه دَ دوئ ټولو په حق کښې دَ ایمان په سبب ښهٔ گواهی ورکړې شوه،بیا هم هغوئ
ته هغه څیز ورنهٔ کړې شو دَ کُوم چه لوظ شوې وُو، ٤۰ ځکه چه خُدائې دَ اول نه زمُونږ دَ پاره څهٔ غوره
څیز خوښ کړې وُو چه هغوئ بغیر زمُونږ نه کامل نهٔ کړې شی.

## عبرانیانو باب ۱۲

### تربیت

۱ نو بیا چه دَ گواهانو دومره لویه وریځ زمُونږ نه چاپیره ده نو راځئ چه مُونږ هم هر یو پیټې أَوْ هغه گُناه
چه مُونږ په آسانئ سره ښښلوی دَ ځان نه لرې کړو،أَوْ په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلیږُو چه مُونږ ته
وړاندې ده. ۲ أَوْ دَ ایمان بانی أَوْ کاملوُونکی عیسیٰ ته وگُورو چه دَ هغې خوشحالئ په ځائې چه دَ هغهٔ
دَ نظر دَ وړاندې وه،دَ شرمندگئ پرواه ئې ونهٔ کړه خو دَ سولئ تکلیف ئې وزغملو أَوْ دَ خُدائې دَ تخت
په ښی لاس کښیناستو.

۳ نو بیا په هغه چا غور وکړئ چا چه دَ گُناه گارانو دومره مُخالفت وزغملو،چه تاسو هِمت بائې نهٔ لئ. ٤
أَوْ تاسو دَ گُناه سره په جنگ کښې تر اوسه داسې مُقابله نهٔ ده کړې چه په کښې مرگُونه شوی وی. ٥
خو تاسو هغه نصیحت هیر کړو کُوم چه تاسو ته دَ فرزندانو په شان په دې ټکو کولې شی:

«زما زویه! دَ مالِک تنبیه سپکه مه ګڼه،

چه هر کله چه هغه تا ملامتوی،نو بے زړهٔ کیږه مه.

۶ ځکه چه چا سره مالِک مینه لری نو هغهٔ ته تنبیه هم کوی

اَؤ مالِک چه هر یو زوئے جوړ کړی هغهٔ له سزا هم ورکوی.»

۷ تاسو تنبیه وزغمئ،خُدائے درسره دَ زامنو په شان سلُوک کوی. هغه کُوم یو زوئے دے چه پلار ئے تنبیه
نهٔ کوی؟ ۸ اَؤ که تاسو ته هغه تنبیه درنهٔ کړے شی په کُومه کښے چه ټول شریک دی نو تاسو حرامیان
شوئ،نهٔ چه زامن. ۹ دَ دے نه علاوه هر کله چه زمُونږ جسمانی پلارُونو مُونږ له تنبیه راکوله اَؤ مُونږ دَ
هغوئ عزت کولو،نو آیا مُونږ دَ خپل رُوحانی پلار دَ دے نه زیاته تابعداری ونهٔ کړُو چه مُونږ ژوندی پاتے
شُو؟ ۱۰ هغوئ خو دَ لږو ورځو دَ پاره دَ خپلے پوهے په مُطابق مُونږ له تنبیه کوله،خُدائے خو زمُونږ دَ
فائدے دَ پاره داسے کوی چه مُونږ هم دَ هغهٔ په پاکیزګئ کښے شامل شُو. ۱۱ اَؤ خبره خو دا ده چه هر
قِسم تنبیه دَ خوشحالئ نه،بلکه دَ غم باعث معلُومیږی،خو چه څوک دَ هغے په زغملو پاخهٔ شوی وی نو
هغوئ ته وروستو په قلاره دَ صداقت میوه بخښی.

۱۲ نو بیا مړهٔ لاسُونه اَؤ سُست زنګنُونه دُرست کړئ. ۱۳ اَؤ دَ خپلو پښو دَ پاره نیغے لارے جوړے کړئ
چه ګوډ بے کاره نهٔ شی بلکه شفا بیا مُومئ.

## دَ خُدائے دَ فضل دَ رد کولو په خِلاف خبردارے

۱۴ دَ ټولو سره دَ صُلح کوشِش کوئ اَؤ دَ هغے پاکیزګئ طلبګار اوسئ چه بغیر دَ دے نه به څوک مالِک
لیدے نهٔ شی. ۱۵ ګورئ! ښهٔ پام کوئ چه څوک دَ خُدائے دَ فضل نه پاتے نهٔ شی،هسے نهٔ چه چرته
ترخه زیله راوُټو کیږی اَؤ ستاسو دَ پاره عذاب شی اَؤ دَ هغے په سبب خلق پلیت شی. ۱۶ اَؤ نهٔ دِ په تاسو
کښے څوک حرامکار یا عیساؤ په شان بے دینه وی چه دَ یو وخت دَ ډوډئ په بدل ئے دَ خپلے مشرئ
حق خرڅ کړو. ۱۷ ځکه چه تاسو په دے پوهه یئ چه څهٔ وخت چه هغهٔ بیا دَ برکت وارث کیدل
غوښتل نو هغه منظُور نهٔ شو،اَؤ دَ نیت دَ بدلولو موقعه په لاس ورنهٔ راغله سره دَ دے چه هغهٔ په ویر ژړا په
هغے پسے ډیر لټُون وکړو.

۱۸ خبره داسے ده چه تاسو دَ سینا غرهٔ غوندے ځائے ته نهٔ یئ راغلی چه بنی اِسرائیلو هغے ته لاس
وروړے شو چه هغه په اور سوزیدو،نه تیارے،تور تم اَؤ طوفان ته. ۱۹ اَؤ دَ بګل آواز اَؤ دَ کلام کوُونکی
آواز راتلو اَؤ چه خلقو هغه آواز واؤریدو نو منت ئے وکړو چه مُونږ سره دِ نور کلام ونهٔ کړے شی. ۲۰
ځکه چه هغوئ دا حُکم ونهٔ زغملے شو: «که څهٔ ځناور دِ غر ته وبلوسی نو هغه دے په کاڼو مړهٔ کړے
شی.» ۲۱ هغه ننداره په رښتیا داسے هیبتناکه وه چه مُوسیٰ ووے چه: «زهٔ ډیر ویریږم اَؤ رپیږم.»

۲۲ خو تاسو دَ صیُون غر ته اَؤ دَ ژوندی خُدائے ښار ته،یعنے دَ آسمان بیتُ المُقدس اَؤ لکُونو فرښتو ته
راغلی یئ. ۲۳ اَؤ تاسو دَ خُدائے اول پیدا شوو مجلس،یعنے جماعت ته راغلی یئ چه نُومُونه ئے په آسمان

کښې لیکلی شوی دی،تاسو خُدائے ته راغلی یئ چه دَ ټولو مُنصف دے،تاسو دَ صادِقانو روحُونو ته
راغلی یئ،یعنې هغه چه کامل شوی دی، ۲۴ اَؤ تاسو دَ نوی وعده تړُونکی عیسیٰ اَؤ دَ هغهٔ نوستلے شوے
دَ شهادت وینې ته راغلی یئ،اَؤ دَ هغهٔ قُربانی دَ هابیل دَ قُربانئ نه ډیره فائده ورکوی.

۲۵ نو پس خبردار شئ چه له هغهٔ نه اِنکار ونهٔ کړئ چه تاسو ته کلام کوی. هغه خلقو ته چه دَ خُدائے
کلام په مزکه آؤرولے شو،چه هغوئ رد کړو نو بچ نهٔ شول. نو هغه پیغام چه له آسمان نه آؤرولے کیږی
که له هغهٔ نه مخ اړوُو نو څنګه به بچ شُو؟ ۲۶ دَ خُدائے آواز خو هغه وخت مزکه ولړزوله خو اوس ئے دا
لوظ کړے دے چه «یو ځل به بیا زهٔ یواځې مزکه نه،بلکه آسمان هم ولړزوم.» ۲۷ دَ هغهٔ ”وئیل یو ځل
بیا“ دا خبره ښرګندوی چه پیدا شوی څیزُونه چه لړزولی شی،به تیر شی چه ناخوځیدُونکی څیزونه پاتې
شی.

۲۸ نو بیا چه مُونږ دَ هغهٔ په بادشاهئ کښې شریک شوی یُو چه لړزولے نهٔ شی نو ځکه دِ مُونږ دَ هغهٔ
فضل ونیسُو،نو مُونږ دِ دَ خُدائے په ویرے اَؤ زړهٔ سواندے سره دَ خُدائے عبادت وکړُو ځکه چه دا هغه
خوښوی. ۲۹ نو یاد لرئ چه زمُونږ خُدائے یو سوزوُونکے اور هم دے.

## عبرانیانو باب ۱۳

## دَ خُدائے دَ خوشحالولو خدمت

۱ دَ ورونړو په شان دَ یو بل سره مینه کوئ. ۲ دَ میلمستیا کولو نه غافله کیږئ مهٔ،ځکه چه دَ دے په وجه
ځنو خلقو دَ فرښتو میلمستیا هم کړے ده خو پوهه شوی نهٔ دی. ۳ قیدیان هم داسے یادوئ لکه چه تاسو
ورسره په قید کښې یئ،اَؤ چه دَ چا سره بد سلُوکی کیږی،هغوئ هم یاد لرئ ځکه چه تاسو هم وجُود
لرئ.اَؤ تاسو سره هم داسے بد سلُوکی کیدے شی.

۴ وادهٔ دِ په تاسو ټولو کښې دَ عزت خبره وګڼلے شی،ښځه اَؤ خاوند دِ دَ یو بل سره وفادار پاتې شی
ځکه چه خُدائے په خپله دَ حرامکارو زِناکارو عدالت کوی.

۵ دَ زرو دَ مینې نه ځان ساتئ اَؤ څهٔ چه درسره دی په هغې صبر کوئ،ځکه چه خُدائے په خپله فرمائیلی
دی چه:

«زهٔ به هیڅ کله هم ستاسو نه بے پرواه کیږم نه،

اَؤ تاسو به هیڅ کله پرے نهٔ ږدم.»

۶ نو ځکه مُونږ ډیر په زړهٔ ورتیا سره دا وایُو چه:

«مالِک زما مددګار دے،زهٔ به ویره نهٔ کوم،

اِنسام به مے څۀ وکړی؟»

۷ څوک چه ستاسو مشران وُو اَوْ چا چه تاسو ته دَ خُدائے کلام واؤروو،هغوئ یاد ساتئ اَوْ دَ هغوئ دَ
ژوند په اَنجام غور وکړئ اؤ داسے ایمان ولرئ لکه چه هغوئ لرلو. ۸ عیسیٰ مسیح پرُون،نن اَوْ تل تر تله
په یو شان دے. ۹ دَ مُختلف اَوْ عجیبه تعلیم نه بے لارے کیږئ مه،ځکه چه دا ښۀ ده چه زړۀ په فضل
مضبُوط شی،نۀ چه په هغه خوراکُونو دَ کُومو اِستعمالوُونکو چه هیڅ فائده نۀ وه مُوندلے.

۱۰ زمُونږ قُربانګاه یو داسے ځائے دے دَ کُوم نه چه دَ خیمے کاهنانو له دَ خوراک هیڅ اِختیار نِشته. ۱۱
ځکه چه دَ کُومو ځناورو وینه چه مشر کاهن یا پاکترین مقام ته دَ ګناه دَ کِفارے دَ پاره وړی،دَ هغوئ
وجُودُونه دَ خیمه ګاه نه بهر سوزولے کیږی. ۱۲ ځکه خو عیسیٰ هم دَ خپلے وینے په وجه دَ اُمت دَ
پاکولو دَ پاره دَ ښار دَ دروازے نه بهر تکلیف وزغملو. ۱۳ نو راځئ چه دَ هغۀ په سپکاوی کښے شریک
شُو اَوْ خیمه ګاه نه بهر هغۀ له لاړ شُو. ۱۴ ځکه چه دلته زمُونږ یو ښار هم قائم پاتے کیدُونکے نِشته بلکه
مُونږ دَ راتلُونکی ښار په لټُون یُو. ۱۵ اَوْ مُونږ دِ دَ مسیح په وسیله همیشه دَ خُدائے په ثنا کولو دَ شُکر
ګُزارئ قُربانی پیش کړُو،ځکه کله چه مُونږ په خپلے ژبے سره دَ هغۀ دَ نُوم اِقرار کوُو نو دا دَ خُدائے دَ پاره
یوه نذرانه ده. ۱۶ نیکی اَوْ سخاوت مه هیروئ ځکه چه خُدائے په داسے قُربانو خوشحالیږی.

۱۷ دَ خپلو مشرانو خبره منئ اَوْ دَ حُکم تابعداری ئے کوئ ځکه چه هغوئ ستاسو دَ رُوحُونو دَ فائدے دَ
خاطره دَ هغوئ په شان بیدار اوسی چا ته چه به حساب ورکول وی،دَ پاره دَ دے چه هغوئ په
خوشحالئ دا کار وکړی نۀ چه په خفګان،ځکه چه په داسے حال کښے به ستاسو دَ پاره هیڅ فائده نۀ
وی.

۱۸ زمُونږ دَ پاره دُعا کوئ ځکه چه زمُونږ یقین دے چه زمُونږ ضمیر پاک دے اَوْ مُونږ په هر څۀ کښے په
نیکئ ژوند تیرول غواړُو. ۱۹ زۀ دا نصیحت تاسو ته ځکه کوم چه تاسو دُعا وکړئ چه زۀ تاسو ته زر بیا
درشم.

## برکت اَوْ آخری سلام

۲۰ مالِک عیسیٰ چه دَ ګډو لوئے شپُونکے دے چه هغۀ دَ خپلے وینے په وسیله دَ تل وعده تړلے ده،هم
هغه خُدائے چه دَ سلامتئ سرچینه دے،له مړو نه بیا ژوندے پورته کړو. ۲۱ اوس هم هغه خُدائے تاسو په
هره خبره کښے تیار کړه چه دَ هغۀ مرضی پُوره کړئ،اَوْ هر څۀ چه هغه خوښوی دَ عیسیٰ مسیح په وسیله
هم هغه په مُونږ کښے پیدا کړی. دَ هغۀ حمد و ثنا دِ تل تر تله وی. آمین.

۲۲ اَئے ورُوڼو! زۀ تاسو ته زاری کوم چه دَ دے کلام دَ نصیحت زغم ولرئ ځکه چه ما تاسو ته په لنډو
ولیکل. ۲۳ زۀ تاسو ته وایم چه زمُونږ ورور تیموتیوس آزاد شو. که هغه زر راغے نو زۀ به دَ هغۀ سره تاسو
ته مُلاقات له درشم.

۲۴ خپلو ټولو مشرانو اَوْ ټولو پاکانو ته سلام ووایئ. دَ اِټلی اِیمانداران وروڼه درته سلام کوی.

۲۵ اَؤ په تاسو ټولو دِ فضل وی، آمین.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved